نظرمحمد مطمئن
ليکوال او شنانند

۲۰۱۵/۰٤/۱۸

# د منځني ختيځ وروستي بدلونونه؛ پر يمن د سعودي- ايران "توده" جګړه،

## طالبان ولې چوپه خوله دي؟

د يمن پر حوثي مليشو د سعودي عربستان او د سعودي عربستان تر رهبري لاندي د نږدي ځلورو عربي هيوادونو بمبارد او د سعودي له دي تګلاري څخه د نږدي لسو هېوادونو ملاتړ، د نړيوالو بېلابېل غبرګونونه را څرګند کړل، ځينو هيوادونو يې په ښکاره له حملي څخه ملاتړ او ننګه وکړه، ځينو هيوادونو بيا وويل چې د اسلامي کانفرانس او ملګرو ملتونو له لاري دي خبري وشي، پرته له ايران او ځينو نورو شيعه هيوادونو د ملګرو ملتونو او امريکا په ګډون ډيری هيوادونو د حوثي مليشو له خوا د يمن حکومت نيول يوه کودتا وګڼله او ويې غوښتل چي واک بيرته په سوله ييز ډول د يمن د اوسيدونکو په خوښه واکمن ته ورکول شي.

### حوثي ملېشي او سعودي، پرونی ملګرتيا او ننني دښمني

سعودي عربستان چې د القاعدې په مقابل کې پخوا د حوثي مليشو ننګه او ملاتړ کاو، اوس مهال چې شيعه حوثي مليشو د سعودي د خوښي حکومت په يمن کي ړنګ کړ، د سعودي حوصله دومره تنګه شوه چي ډير ژر يي جګړه ييز عکس العمل وښود او د يمن په حوثي مليشو يي بمبارد پيل او پر يمن يي د حملي ګواښ کړ.
سعودي عربستان او عربي خليجي هيوادونه په څرګند ډول وايي چي په يمن کي حوثي مليشو سره د ايران له خوا مرسته کيږي او ايران غواړي چي شيعيزم ته په سيمه کي پراختيا ورکړي.
که څه هم جګړه دوام لري، د سعودي په مشرۍ د لسو نورو عربي هيوادونو له خوا د يمن پر حوثي مليشو بمبارد او ډول ډول جنګي تاکتيکونه په مخ ورل کيږي، خو د جګړي په لومړيو کرښو کي د پام وړ تغيير نه دی راغلی، داسي معلوميږي چي په يمن کي يواځي بمبارد به نتيجه ورنه کړي او د پلي پوځ له پاره اړتيا ليدل کيږي.

### «ناپيېلی» پاکستان؟

په پوځي برخه کي سعودي عربستان او عربي هيوادونو تر ټولو زيات په پاکستان باندي باور درلود چي د دوی ننګه به وکړي، حتی تر دي چي د سعودي ځينو مشرانو دا ډول څرګندوني هم اوريدل شوي، چي د پاکستان اتوم داسي ګڼل کيږي لکه سعودي عربستان چي يې لري، ځکه پاکستان د سعودي عربستان خبره په هر وخت کي منلي او د سعودي مهم ګډ ستراتيژيک ملګری هيواد دی.
کله چي سعودي عربستان په يمن کي د پاکستان څخه د پوځ، کښتيو او جنګي وسايلو غوښتنه وکړه، پاکستان خپل موقعيت ته په کتلو او له ايران سره په سرحدي سيمو کي د يو لړ امنيتي ستونزودا ډول په پاکستان کي د ننه د شيعه او سني وګړو تر منځ ستونزو له امله ونه منله چي يمن ته خپل پوځيان واستوي.
زما په باور، پاکستان خپله پاليسي لري او د سعودي په شمول ټولو هېوادونو سره په اړيکو کي د ګټو پر اساس چلند لري. د اخلاص او ملګرتيا اخلاقي اصول ورته ډېر مطرح نه دي.
سعودي ګومان کاوه چي پاکستان د دوی ډېر مخلص دی، خو پاکستان يوازې د سعودي تېلو او پيسو ته کتل. اوس پاکستان له سعودي سره ځکه دي جګړه کي برخه وانه خيسته، چي اوس د سعودي مرستي د پخوا په شان ډېري نه دي. د اتوم بم جوړولو پر مهال، سعودي څه موده پاکستان ته وړيا تېل ورکول او بيا په نيمه بيه، خو اوس دغه مرستي نشته. بلکي ډېرې معمولي مرستي دي چي د پاکستان پر اقتصاد به ډير تاثير ونه لري.
د دي په مقابل کې، ايران له امريکا سره جوړجاړی وکړ. اقتصادي بنديزونه به پرې لرې کيږي، او د پاکستان له پاره اوس ايران ډېر مهم کيږي. اقتصادي اړيکي به يې ورسره پراخي شي، اتومي فعاليتونه ګډ تر سره کولای شي.
تر ټولو مهمه دا چي ايران په سيمه کي يو ځواکمن هېواد دی. د پاکستاني تحليلګرو په اند، راتلونکو کلونو کي هند د سيمي يو ځواکمن هېواد کيږي او امريکا به ورسره لا هم نږدې کيږي، هند ته د اوباما سفر او له هند سره مختلف



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

اقتصادي او اتومي ټرونونه د دې ښه مثال دي. په داسې حالت کې پاکستان منزوی پاتې کېږي، چې د ایران په څېر هېواد ملګرتیا ته ضرورت پیدا کوي.
د پاکستان له پاره نور سعودي عربستان ډېر ارزښت نلري، نه اقتصادي او نه جیوپولیټیکي، ځکه یې پوخ استولو ته زړه ښه نه کړ.
د افغانستان ولسمشر اشرف غني پر یمن د سعودي له حملې څخه ننګه وکړه او د سعودي عربستان پلو یې ونیوی، ولې د ده اجرائیه رئیس او ایران پلوه محمد محقق بیا د اشرف غني پرېکړه وننګوله.
د اسلامي حزب مشر ښاغلي ګلبدین حکمتیار اعلان وکړ چې که اړتیا وي او د لارې د تګ ستونزه نه وي خپل جنګیالي به د جګړې له پاره یمن ته د سنیانو د ملاتړ له پاره واستوي.

## طالبان ولې چوپ دي؟

طالبان چې په نړیوالو مسایلو کې یې په تیرو وختونو کې غبرګون ښودلی دا ځل د سعودي اړوند چوپه خوله دي، نه یې دهغوئ ملاتړ او نه هم رد کړي، او نه یې دا ویلي چې په دې مسئله کې بې پرې دي.
ولې طالبان چوپه خوله دي؟ معلومېږي چې طالبان له عربي نړۍ څخه په استثنی د قطر، له نورو څخه یو ډول خفه دي او د خفګان له امله ده چې په دومره لویه پیښه هیڅ ډول نظر نه ورکوي، تر دې چې د دوی په مطبوعاتو کې دغې مسئلې ته ځای ندي ورکول شوی.
کله چې پر افغانستان د امریکا په مشرۍ نږدې ۴۹ هیوادونو حمله وکړه، د امریکا د یرغل اړوند ګرده عربي نړۍ چوپه خوله پاتې شوه، او ځینو خو د ناټو ملاتړ وکړ، د ناټو عسکرو په لیکو کې یې خپل عسکر هم د طالبانو د ځپلو له پاره افغانستان ته راواستول.
د سعودي عربستان له خوا له طالبانو څخه د اسامه بن لادن د تسلیمي غوښتنې نه منلو له کبله د طالبانو د حکومت پرمهال اړیکې ترینګلې شوې، بیا په وروسته وختونو کې د سعودي له خوا د کرزي له حکومت سره ډېره نږدیوالی او د طالبانو هیرول بل لامل ؤ چې دغه فاصله یې زیاته کړه، له دې هاخوا په سعودي کې د ځینو طالب چارواکو نیول او بندي کول ستونزه نوره هم ډېره کړه.
ایران سیمې او حالاتو ته په کتلو سره د سعودي عربستان د القاعدې ضد، د طالبانو سره نه ملاتړ او د اخوان المسلمین ځپلو تګلارې نه ډېره زیاته ګټه پورته کړه.

## له بُن وروسته افغانستان او شیعه برلاسي

د ۲۰۰۱م کال په ډسمبر میاشت کې د طالبانو له سقوط وروسته د جرمني په بُن ښار کې د امریکا، اروپایي اتحادیې، سیمه ییزې هیوادونو او افغان سیاسي اړخونو ترمنځ یو داسې نړیوال کانفرانس دایر شو چې طالبان په کې په پام کې ونه نیول شول. له دې کانفرانس وروسته، په ۲۰۰۷م کال کې په افغانستان ته په ۲۰۰۱ م کال کې دهغه وخت د ملګرو ملتونو استازي، لاخضر ابراهیمي اعتراف وکړ چې په بُن کې د طالبانو نه ګډون تېروتنه وه.
له بُن وروسته افغانستان کې، ایران په نظام کې خپل افغان ملګري دومره مخکې کړل چې پخوا یې کله هم د افغانستان په سیاسي تاریخ کې بېلګه نه شو په ګوته کولای.
په افغانستان کې له بُن وروسته د شیعه وو پرمختګ که له یوې خوا د ایراني حکومت د ملاتړ له امله و، له بلې خوا په افغانستان کې د سنیانو د قوي ملاتړي هېواد د تش ځای په خاطر و. له بُن وروسته د سعودي حضور د نشت برابر و. همدې نه حضور ایران لا زړور کړ چې خپله مداخله لا چټکه کړي.
ایران هوښیار دی، له تروریزم سره د جګړې په اثر کې له امریکا سره په ښکاره ونه دریدله. خپل ولس او د نړۍ مسلمانانو ته یې ځان یو مستقل غرب ضد محور په توګه وښود، تر ډېره یې وکولای شول چې اسلامي حیثیت په دغسې وخت کې ځان ته وساتي هغه چې نورو هېوادونو په سیاسي بازیو سره وبایله.
ایران ټولو هغه خپه اسلامپالو او جهادیستانو ته لاس ور اوږد کړ چې د دوی عربي سیالانو خپه کړي و، لکه القاعده، طالبان، حماس او... دغو ډلو چې له عربو څخه یې ښه زړه نه درلود د تهران بلنې ته لبیک ووایه، او خپله استفاده یې تري وکړه. عربانو برعکس امریکا ته لبیک ووایه خپل اتباع یې سلب تابعیت کړل، اسلامي او جهادیستي ډلې یې تر فشار لاندې راوستلې، دې کار ورته په کور دننه نور دښمنان هم وپنځول، او ډېرې خپل خلک یې هم خلاف شول.
نتیجه دا شوه چې ایران پرته له دې چې له امریکا سره ښکاره انډیوالي وساتي یا خپل خلک خپه کړي، د سیمې په سیاستونو کې هم بریالي راووت او هم یې له امریکایي حضور څخه پوره استفاده وکړه، هم یې په سیمه کې د تشیع څخه په استفاده خپل سیاسي نفوذ زیات کړ. په عراق او افغانستان دواړو کې سني حکومتونه ړنګ شول، نو طبیعي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

وه چي شيعه ګانو لومړی ځل ازادي پيدا کړه، د شيعه وو په پياوړتيا کي هماغه وو چي هم د امريکا ګټه وه او هم د ايران، په عين حال کي ايران وکولای شول چي د سيمي ځيني سني ځواکونه هم خوشاله وساتي، لکه مخکي چي مو اشاره ورته وکړه طالب، القاعده، حماس او...، له همدې امله ده چي ويلای شو ايران د لوبي/جنګ دواړه غاړو کي بريالی راووت.

ايران د طالبانو د سمه بيزو او نړيوالو مجبوريتونو په نظر کي نيولو سره له طالبانو سره اړيکي ښې کړي، او په ځينو مواردو کي يې د هغوي په ګټه کارونه وکړل، دا ډول يې د امريکا د حملي پر مهال د القاعده مجاهدينو ته د ايران د لاري عربي هيوادونو ته د تللو زمينه برابره کړه.
همدا لاملونه دي چي ايران وتوانيدي لومړي په عراق، بيا په سوريه او دا دی اوس په يمن کي د عربي هيوادونو مقابله کي کامياب روان دی، او په يادو هيوادونو کي ايران وتوانيدی د امريکاپه مخامخ مرسته په عراق او يمن کي د اهل تشيع واک ته رسول، او په سوريه کي د اهل تشيع په واک کي پاتي کيدلو دا ډول په لبنان کي د اهل تشيع غوښنه برخه ولري.
يا په بل عبارت، ايران وتوانيدي چي سعودي عربستان او عربي خليجي هيوادونو ته ماتي ورکړي، او خپله د شيعيزم د پراختيا تګلاره کي کامياب روان دی.

## د سعودي عربستان او عرب هيوادونو تېروتنه

د عربانو تيروتنه همدا وه چي د امريکا په يارۍ کي يې خپل ټول وطني او داخلي، همفکره او هم مذهبه ځواکونه په لغته ووهل، هغوی هم ځان د ايران په لمن کي واچاوو.
له عربو سره چي اوس ايران په تقابل کي واقع شوی، د سني نړۍ اسلامي ځواکونه لکه طالبان، القاعده او حماس به طبعا هغه چاته په مشکله ترجيح ورکړي چي هم مذهبه يې دی، خو ضرر يې ورته تر خلاف-مذهبه زيات رسيدلی.
سعودي په نازک حالت کي قرار لري، په افغانستان کي يوازې د ژوور سياسي ملاتړ له خپلولو او د خپه شويو له خوشالولو وروسته څه کولای شي، که وغواړي چي مخامخ په افغانستان کي عمل ته داخل شي، پرته له دی چي د هيواد سياسي او ديني قواوي ځان سره ودروي، نو د ايران لخوا چي ريښې يې ډېرې ژورې غځولي مخه به يې ډب شي، لکه په کابل کي د نړيوال اسلامي پوهنتون مخه چي يې ډب کړه. او دا د کلونو کار دی چي سعودي يې يوازې په احتياط او دقت سره کولی شي. که سعودې هڅه وکړي چي د جنجالي ډلو (سلفيان او ...) له لارې عمل ته داخل شي هم به کار ورنه کړي.

د سعودي عربستان يوه ستونزه داهم ده چي له اسلامی عجمو هيوادونو پرته له ترکيې د شراکت نه بلکي د غلامۍ د کردار اداء کولو په سترګه ورته ګوري، همدا رنګه له ځينو غريبو عرب هيوا دونو سره هم د شراکت او متقابل احترام چلند نه کوي، بلکي غواړي چي هغوی ته د غلام په سترګه وګوري.

د مصر اوسنی ولسمشر سي سي چي د سعودي او اماراتو په مالي ملاتړ سره يې د مرسي او مصريانو منتخب حکومت له منځه يوړ، د لسګونو زرو مصريانو په وژلو سره يې په زور سره واک په لاس کي واخيست، اوس د کومو اصولو له مخي وايي چي په يمن کي پر قانوني حکومت حوثيانو کودتاه کړي ده، آيا خلک نه پوهيږي چي سي سي خپله کودتاه کړي، او نن د سعودي په مشري په يمن د حملي په ائتلاف کي ګډون لري.
سعودي عربستان او عرب هيوادونه په افغانستان او نورو غريبو مسلمانو سني هيوادونو کي مرستي تر دولت پوری منحصر کوی، هغه دولتونه چي د امريکا د ګټو له پاره کار کوي، د هيوادونو د ولسونو سره په تماس کي نه دي، او نه هم د ولسونو د هوسايني له پاره پروژې عملي کوی، همدغه ستونزه په افغانستان کي لري چي هر څه د حکومت په خوښه کوي، او حکومت د امريکا له خوښي پرته د سعودي هيڅ ډول پروژې ته اجازه نه ورکوي، همدا لامل دي چي په کابل کي د سعودي له خوا د پوهنتون جوړيدو مخه نيول کيږي
برعکس ايران په سني هيوادونو کي د خپلو لړکيو شيعه ولس سره که د حکومتونو يې خوښه وي يانه وي مرستي کوي، همدا لامل دی چي ايران په خپله د شيعيزم د تکثير او مرستي تګلاره کي کامياب دی، حتی ځيني وختونو حکومتو خلاف د خپلو ګټو په خاطر له سني علماو سره هم ايران مرستي کوي.

## د افغان شيعه وو ملاتړ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په افغانستان کې ایران ورته تګلاره مخکې وړې، د طالبانو د حکومت د له منځه وړلو کې د امریکا له تګلارې سره موافق و، په سیاسي بهیر کې د اهل تشیع پراخ ګډون په بن کې دوی ته مهمې چوکۍ ورکول د ایران په خوښه او غوښتنه، له هغه وروسته په تیرو ۱۳ کلونو کې د افغانستان د دویم معاونیت چوکۍ د اهل تشیع په میراث پاتې کیدل، ځینې وزارتونه اهل تشیع ته ځانګړي کول، په پارلمان کې د ډیرو اهل تشیع وکیلانو شتون، او د ډیرو ایران پلوه وکیلانو راوستل، په پوځ، پولیسو او امنیتي ادارو کې اهل تشیع ته د مهمو چوکیو په برخه رسیدل، هغه څه دي چې په راتلونکې کې دلته هم د ایران سیاسي، پوځي او مذهبي پراختیا نښې نښانې معلومیږي.

اهل تشیع ورونړه د میرمنو اړوند هم ژوره تګلاره مخکې وړې، او دایران په مرسته هڅه کوي چې د پوځ، پولیسو او امنیتي ادارو کې اهل تشیع میرمنې داخلي کړي، اوس مهال په یادو ادارو کې د اهل تشیع میرمنو شتون تر سنیانو زیات دی.

دا ډول د اهل تشیع میرمنو له خوا بهرنۍ او نړیوالي ادارې او په کابل کې د بهرنیو هیوادونو سفارتونه هم په نښه شوې، او هلته یې خپل شتون ثابت ساتلی دی.

په کلتوري او رسنیزه برخه کې ایران په افغانستان کې ډیر کار کړی، دلته د دوی په پیسو ټلویزونونه، اخبارونه او راډیوګاني نشرات لري، کلتوري نمایش ځایونه لري، او کلتوري اتشه یې ډیره فعاله ده.

په تعلیمي برخه کې یواځې په کابل کې د شیخ محسني تر مشرۍ لاندې د خاتم النبین مدرسه او پوهنتون کفایت کوی، داسي ژور او عمیق کار یې کړی چې سعودي عربستان او عربي خلیجي هیوادونه به یې لس نور کلونه وروسته پوه شي چې دلته دوی څومره د شیعیزم د تکثیر او تبلیغ له پاره کار کړی.

داچې د هیواد په بېلا بېلو ښارونو کې د اهل تشیع له پاره د ژبو او ساینسي مضامینو وړیا مرکزونه جوړ شوې، داچې ځانګړې مدرسې او مکتبونه ورته جوړ شوې، داچې په کابل ښار کې پریمانه پوهنتونونه د ایران په مرسته جوړشوې، داچې اهل تشیع محصلینو ته تخفیف او وړیا زده کړې د ایران په پیسو د کابل د اهل تشیع اړوند پوهنتونو کې لوړې زده کړې ورکول کیږي، دا چې د ایران په مټ د اهل تشیع ډیرې ځوانان بهر هیوادونو ته د ماسترۍ او دکتورا د سند ترلاسه کولو له پاره ولاړل او راغلل، داچې د ایران هیواد له خوا د اهل تشیع سیاست والو ته د ماسترۍ او دکتورا سندونه ورکول شوې او داسي نور ډیر څه چې دلته یې راوړل لیکنه اوږدوي، هغه څه دي چې د سنیانو مشران او په ځانګړي ډول عربي هیوادونه به یې لسیزه ورسته په نتیجه پوه شي.

په مذهبي ډول د ایران له خوا د اهل تشیع علماوو ته مدرسې جوړې شوې او جوړیږي، د دوی اړوند مسجدونو ( تکیه خانو) امامانو ته میاشتنی معاش ورکول کیږي، او دادی نن د افغانستان په محاکمو کې فقه جعفریه هم منل شوی قانون دی.

له لیري پرتو سېمو څخه اهل تشیع ورونړه ښارونو ته راوستل کیږي، په کابل او هرات کې نوی ښارګوټي ورته جوړیږي.

اوس که دا ایران مذهبي، کلتوري او سیاسي پراخیا تګلاره په افغانستان کې د عربي هیوادونو د تګلارې سره پرتله کړو، ویلای شو چې ایران ګټونکی دی.

## د سعودي د نړیوال اسلامي پوهنتون هم مخنیوی وشو!

د سعودي عربستان له خوا د نړیوال پوهنتون جوړیدل په کابل او بیا وروسته په جلال اباد کې مخه چا ونیوله؟ ولی ونیول شوه؟ آیا سعودیان نه پوهیږي؟ موږ ټول پوهیږو چې ایران یې مخه ډب کړې.

آیا سعودي کولای شي چې خپلې ماتې جبران کړي او د ایران د شیعیزم پراختیا مخه په عربي هیوادونو او افغانستان کې ډب کړي؟

ځینې سیاسي شنونکي پر دې باور دي چې تر ټولو اسانه او مهمه چې د ایران نفوذ په افغانستان او عري نړۍ کې کم کړل شي سعودي عربستان او عربي هیوادونو ته په کار ده چې د طالبانو ملګرتیا له لاسه ورنه کړي، او د هغوئ ننګه او ملاتړ وکړي، او پرې نه ږدي چې ایران د طالبانو له بېلابېلو مجبوریتونو څخه ګټه پورته کړي، یواځنۍ ډله چې کولای شي د شیعیزم د پراختیا مخه په افغانستان کې ډب کړي هغه طالبان دي، او کله چې په افغانستان کې د ایران نفوذ کم شي ، مخامخ په عربۍ نړۍ د ایران پر تګلاره تاثیر اچوي، ایران به په خپل ګاونډ کې بوخت وي.

سعودي عربستان او عربي نړۍ ته په کار ده چې د افغانستان په جنوب او ختیځو سېمو کې د ایران د تګلارې سره ورته په خپله ګټه تګلاره عملي کړي، تعلیمي مرکزونه، د مذهب (حنفي مذهب) د علماوو ننګه، د پوهنتونو، مدرسو او وړیا زده کړو مرکزونه جوړ کړي.

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا ډول سعودي عربستان ته په کار ده چې په کابل کې د نړیوال اسلامي پوهنتون څخه په هیڅ ډول تیر نه شي، او دغه پوهنتون دلته جوړ کړي.
داچې د ایران نفوذ په منځني ختیځ کې هم ډب شي، بالاخره سعودي عربستان او عربي نړۍ به مجبوره وي چې له القاعدې سره خپل اړیکې بیا ورغوي، همدا القاعده ده چې کولای شي د ایران مخه ډب کړي، پرته له القاعدې دادي ولیدل شول چې عرب هیوادونه دومره پوځي ځواک نه لري چې د امریکا په مرسته د ایران د شیعیزم د پراختیا تګلاره ډب کړي.

## یمن کړکیچ او سعودي

په یمن کې د یمن خلک د سعودي عربستان له حکومت څخه ناراضه ښکاري، ځکه د سعودي له خوا هم یمنیان په بېلابېلو وختونو کې وځپل شول او د حوثي ملیشو ملاتړ همدې سعودي کاو، ګرانه به وي چې د یمنیانو زړونه سعودي خپل کړي، او د یمن جګړه پرته د یمنیانو او القاعده له ملاتړ څخه وګټي .

ځیني شنونکي بیا په دې نظر دي چې د سعودي او یمن لانجه د عقیدې او مذهب پر اساس نه ده، دلیل راوړي که د عقیدې پر اساس وي نو سعودي عربستان ولې د اسرائیلو په اړه دغسې یو ائتلاف نه جوړوي، چې د مسلمانانو لومړي قبله مسجد اقصی یې له تیرو ۶۹ کلونو راهیسې اشغال کړي، ولې سعودي او ټلواله یې ددې پرځای چې د مسجد اقصی دفاع وکړي، ددې پرخلاف اسرائیلي الوتکې د همدې خلیج په تیلو چلیږي او د مسجد اقصی پر مدافعینو مجاهدینو بمبارد کوي، تر دې چې ځیني عربي هیوادونه د همدې اشغالګرو اسرائیلو سره ډیپلوماتیک اړیکې ساتي.
بل خوا د عربي هیوادونو وګړي پوهیږي چې امریکا د شاتو په ګیلاس کې دوی ته زهر ورکوي، عرب وګړي پوهیږي چې اوسني تاوتریخوالی په منځني ختیځ کې د امریکا او ایران ګډه تګلاره ده.
کله چې عرب وګړي نور هم مایوسه شي، هغوی به مجبوره وي چې د القاعدې ننګه وکړي، بیا به د عرب هیوادونو مشرانو ته د القاعدې سره د اړیکو د بیا رغوني چانس هم پاتې نه وي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ